
استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی سه شنبه ۲۲ اگست ۲۰۲۳

# د احمدشاه بابا دیوان

## اتمه برخه




## اخلاقیات

اخلاقی شاعری، ده مشرق د ادب، خاص بیا د منځنی آسیا د ادبیاتو یو مهم توک دي، په عربی او پارسی ژبو کي له زړې زماني څخه یعني تقریباً یو زر کاله د مخه اخلاقی روح جوریدلی دی!

محمد ابن محمود بدائعی چه د بلخ وو د سلطان محمود زابلی په عصر ئې په پارسی ادب کي ده اخلاقی شاعرۍ سټه کښیښووه، او یوه اخلاقی (پند نامه) ئي منظومه کړه. [۲۳] تر ده وروسته نو لوړ لوړ اخلاقی شاعران چه په نوي ژبه ئي مورالیسټ بللای سو منځ ته راغله، حکیم سنائی، نظامی، سعدی، ناصر خسرو، مولوی، ابن یمین او نور له اخلاقی مشهورو شاعرانو څخه دي چه په مشرق کي د دوی اخلاقی تبلیغونه او اقوال ډیر شهرت لري، او د مشرقی ملتو د اخلاقو پیکر، د دوی د افکارو څخه مرکب دي!

۲۳شعر العجم ج ٥.

که څه هم په مشرق کي د مغولو تر ناورین وروسته، د خلقو اخلاق د عملیت او افادیت له خوا څخه د انزوا او نفی و خوا ته مایل شوی دي، او د اکثرو اخلاقیونو تبلیغات او اشارات هم له دغو څخه مرکب دی او د پارسی اخلاقی شاعرئ په زړه کي دغو منفی افکارو ځای نیولی دي، مګر بیا هم کله کله په دغه دنیا کي داسی ژوندی او فعال ادباء منځ ته راغلی دي، چه له اخلاقو څخه ئې د نفی او ترک دنیا خوا لږ کړی او د عملیت او فعالیت د فلسفې ساه ئې پکښي پو کړې ده، زه دا نه وایم چه په اخلاقو کي روحانیت او ترک دنیا، او انزوا، او نور منفی تلقینونه، ټوله ښه نه وه، بلکه دا وایم لکه یوازی د مادیت او عملیت فلسفه چه انسان سعادت ته نسی رسولاي، دغسی هم د نفی او انزوا خوا یوازي د انسان د دارینو د سعادت دپاره کافی نه ده! ولی چه پخپله اسلام هم د اعتدال خوا خوښه کړې ده، چه نه مجرد مادیت او نه مجرده د ماوراء الماده فلسفه، بلکه یوه منځنۍ لاره ده!

د دغي خبري د روڼولو دپاره موږ ته د عصر نبوت او صدر اول اسوهٔ حسنه سته، چه هغو هم د دنیا د سمولو دپاره جهاد کاوه، هم ئې د عقبی ښیګړي لاس ته راوړې. د قرآن عظیم هدایت (اعدلو افهو اقرب للتقوی) هم دغه منځنۍ لار ښئي.

په پښتو شاعري کي خو هم اخلاقی خوا د پارسی شعر تر اثر ډیره لاندي ده، خاص بیا په هغه وخت کي چه د پښتو شعر د ارتقاء لمړی ګام وو، د هندوستان د مغولو جګړو او ظلمو د پښتنو ادبیاتو ملی وېښ روح ته درنه ډکه ورکړه، مګر بیا هم زموږ نامور ادباء په اخلاقی تبلیغاتو کي کورټ د نفی او انزوا او کښته توب خوا نه نیسی، یعنی د پښتنو غښتلي او عملی اخلاقی روح کورټ ذلت او پستي نه مني، د پښتو پلار خوشحال خان خټک د دغه لوړ اوعالی تبلیغ اوستاد دي او هیڅکله د اخلاقی فلسفې منځنۍ لار نه پرېږدي، دی په عین هغه وخت کي چه د عجز تواضح تبلیغ کوي، د اخلاقو عملی خوا هم را ښئی، مثلاً وایي:

که په توره ئې ځواب ورکړې مردي ده

که وجود دی څوک آزار کاندی په چوب

بل ځای د انسان د اخلاقو دغه دوه پلوه داسي ښکاره کوي:

چه خبره د پستی د بلندۍ سي

په لویي لکه اسمان په پستي خاک

حمید بابا مهمند، د پښتنوالی دغه لوړ او فانی نه کیدونکی روح، څنګه په یوه بیت ژوندي کوي:

یـو بـه نسم مغـلـواله د رقیب ستا

په رشتیا که زیږولی پښتنې وم

احمد شاه بابا هم به اخلاقی شعر کي دغه ژوندي روح لري، دی له یوې خوا پښتنو ته د توری او شجاعت او عملی ژوندون تبلیغ کوي، له بلې خوا هغه اخلاق چه د ایشیا د شعر ډیره برخه په اړه ده، ښیئي، د دغو دوو خواوو تر منځ البته سمه لار چه اعتدال دي لاس ته راځي، د احمد شاه بابا د توری ستاینې او د ننګیالی توب تبلیغات او ژوندي افکار مو د حماسیاتو په برخه کي وویل، اوس به د ده نور اخلاقی افکار هم لږ لږ ښکاره کړو:

**ځان پیژندنه:**

نوربیا